جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون شکایات انتخاباتی

دافغانستان اسلامی جمهوریت
د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

# مطبوعاتی خبرتیا

**۱۰ سپتمبر، ۲۰۰۹**

## د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته امر ورکوی چی په پکتیکا ولایت کی د رایی اچونی د پنځو محلونو نتایج باطل اعلان کړی

د تحقیقاتو پر مهال، د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون په پکتیکا ولایت کی د رایی اچونی د پنځو محلونو په اړه ځرګند او قانع کوونکی شواهد ترلاسه کړی دی. نو ځکه د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون امر کوی چی د لاندینیو موقعیتونو او انتخاباتو رایی باطلی اعلان کړی او له شمیرلو څخه وایستل شی.

| Decision | د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د پریکړی شمیره | د رای اچونی مرکز | د رای اچونی محل | انتخابات | پریکړی |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | A-09-00-5033 او نور | 0704062 | 01 | ریاست جمهوری | تولی رایی دی باطلی شی |
| ۲ | A-09-00-5033 او نور | 0705069 | 05 | ریاست جمهوری | تولی رایی دی باطلی شی |
| ۳ | A-09-00-5033 او نور | 0707086 | 02 | ریاست جمهوری | تولی رایی دی باطلی شی |
| ۴ | A-09-00-5033 او نور | 0707087 | 05 | ریاست جمهوری | تولی رایی دی باطلی شی |
| ۵ | A-09-00-5033 او نور | 0707088 | 08 | ریاست جمهوری | تولی رایی دی باطلی شی |

تحقیقات او وروسی پریکړی د هغو شکایتونو په ځواب کی تر سره شوی چی د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د رایی اچونی او رای شمیرنی په مرحله کی تر لاسه کړی وو. د تحقیقاتو پر مهال د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د پاسنیو یادو شویو محلونو په اړه د درغلی ځرګند او قانع کوونکی شواهد ترلاسه کړی. په دغه شواهدو کی د رای اچونی د صندوقونه د نښو، د رای پاڼو سره مل فورمو، او پخپله د رای پاڼو حالت دا ځرګندوله چی رایی په مشروع توګه نه وی اچول شوی یا په سمه توګه نه وی شمیرل شوی.

د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته دا امر ورکړ چې د رای اچونی په پورته یاد شویو مرکزونو کی د پاتی نورو محلونو تفتیش او بیا شمیرنه د ناظرینو، استازو او د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د استازو په موجودیت کی ترسره کړی.

د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د پکتیکا او نورو ولایتونو په اړه د پاتی شویو شکایتونو تحقیق ته هم ادامه ورکوی.

د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د اړوند پریکړوو بشپړ متن ورسره مل دی. د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون پریکړی په دغه مطبوعاتی خبرتیا کی د یاد شویو ټولو بندیزونو لپاره یواځینی سر چینی دی. دغه او نورو ټولو پریکړو ته د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون د ویبپاڼی www.ecc.org.af له لاری هم لاسرسی لرلی شی.

د افغانستان د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون یوه خپلواکه اداره ده چې د انتخاباتو د قانون د ۵۲ مې مادې پر اساس را منځته شوې ده چې د انتخاباتو د پروسې اړوند ټول شکایتونه فیصله کړي. شکایتونه باید له سرغړونی وروسته په ۷۲ ساعتو کې د ننه ثبت شي. د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون ته رسیدلی ټول شکایتونه به پر خپل وخت په یوه بی پری او شفافه توګه فیصله شی. د انتخاباتی شکایتونو کمیسیون به جدي قضيي له اوله تر پایه څیړي او کاندیدان او د دوئ پلویان باید د شکایتونو د پروسې نتیجې ته له صبر نه کار واخلي.
د لا زیاتو معلوماتو لپاره له احمد مسلم خرم سره په لاندې پته اړیکې ونیسئ:

احمد مسلم خرم
ahmad.muslem@ecc.org.af
+۹۳۰۷۹۸۱۸۸۶